# د افغانستـــان اســـلامي امارت
# د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت
# د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
# د ارشـــاد او دعوت آمريت
# د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

**د جمعې د خطبې لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۳/۸/۷هجری قمری مطابق ۱۴۰۰/۱۲/۲۰هجرى شمسى**

## د روانې (شعبان المعظم) د مياشتې فضيلتونه

الحمدلله الذي جعل لعباده مواسم يتقربون إليه فيها بأنواع الطاعات، فيغفرغ لهم الذنوب ويرفع لهم الدرجات، وأشهد أن لآ إلـه إلاالله، حكم فقدر، وشرع فيسر، ولا يزال يفيض على عباده من انواع البر والبركات، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله أول سابق إلى الخيرات صلى الله عليه وسلم وعلى آله وأصحابه الذين كانوا يحافظون على طاعة ربهم في جميع الاوقات، ويخضون أوقات الفضائل بمزيد من القربات وسلم تسليماً كثيراً.

**اما بعد :**

**متدينو او مؤمنو لمونځ كوونكو او محترمو حاضرينو!**

**السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!**

خاص الله جل جلاله لره ثنا او صفت وايو چې ما او تاسو ته يې فرصت راكړ چې دى سپيڅلي ځاى ته يې د الهي فريضې اداء كولو لپاره را ټول كړو. او توفيق يې راكړ چې د شعبان المعظم مياشت اړوند مسئلو او فضائلو باندې سره وغږيږو؛ ترڅو د رروژې د مياشت لپاره چمتو واوسو.

الله جل جلاله چې دنيا او ددنيا نظام پيدا كړى دى، په دې كې د الله تعالى د عظمت او دهغه د حكمتونو بې شميره نښې نښانې پرتې دي. په كائناتو كې د پرتو د نا اشنا او عجائباتو د پيژندګلوى او ورڅخه د ګټې اخيستلو لپاره الله رب العزت دا شمسي او قمري نظام پيدا كړى دى؛ لكه چې الله تعالى فرمايلي دي:{ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِتَبْتَغُواْ فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلاً }الاسراء :(۱۲)

ترجمه: مونږ شپه او ورځ دوه نښانې پيدا كړي دي( د الله تعالى په قدرت دلالت كوونكې)، بيا مونږ محوه كوو د نښانه د شپې (روښنايي د منځه وړو د لمر په پريوتو سره) او پاتې كيږي د ورځ نښانه ښكاره ددې لپاره چې تاسو ولټوى د خپل رب مهرباني( رزق) او ددې لپاره چې تاسو معلوم كړى په دې سره شمارد كلونو( داخليدل د كلونو اووتل د كلونو) او ددې لپاره چې تاسو وپيژنى حساب ( د ساعتونه د ورځو او شپو، هفتو او مياشتو) او هرڅه مو په تفصيل سره بيان كړي دي.

الله جل جلاله ځان ته د نږدې كيدلو لپاره عباداتونه فرض كړي دي او څه يې نفل ګرځولي دي ؛ ترڅو بندګان خپل ځانونه په دې وسيله سره خپل خالق ته نږدې كړي او الله جل جلاله ورته ببنه وكړي او درجې يې لوړې كړي چې په حقيقت كې همدا دبندګانو د پيدايش راز او هدف دى.

الله تعالى فرمايلي دي:{ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ} الذاريات: (۵۶)

**ترجمه :** مونږ نه دي پيدا كړي انسانان او پيريان مګر ددې لپاره چې د(الله تعالى) عبادت وكړي.

**د شعبان میاشت فضیلت او د رمضان المبارک میاشت استقبال:**

د شعبان المعظم میاشت د رمضان له میاشتي څخه مخکي ده، له دې کبله په دې میاشت کې روژه نیول مستحب عمل دی ، ترڅو مسلمان خپل ځان رمضان المبارک هرکلي ته چمتو کړي او خپل نفس د الله جل جلاله عبادت او امر ته تیار کړي.

په دې میاشت کې ډیرې ښیګڼې او برکتونه پراته دي او الله تعالی خپلو بندګانو ته په کې خاصه توجه کوي، له دې کبله پیغمبرصلی الله علیه وسلم دې میاشتې ته ډیره توجه کوله ـ او ډیرې روژې به یې په کې نیولې .

شعبان المعظم هغه میاشت ده چې د رجب او رمضان ترمنځ ده، دا هغه میاشت ده چې په دې میاشت کې د بندګانو عملونه الله جل جلاله ته وړاندې کیږي.

الله جل جلاله انسان د روح او مادی نه پیدا کړی دی، د هغه په خټه او طبیعت کې ټولی هغه طبعي او مادي غوښتني او غریزې شته چې په نورو حیواناتو کې شتون لري.

ددی ترڅنګ د ده په فطرت کې د روحانیت او نورانیت جوهر هم شته، د انسان نیکمرغي او بریا په دې کې ده چې روحاني او ملکوتي برخه  په حیواني عنصر باندې بر لاسه کړي او روحانیت پر حیواني عنصریت باندې  مسلط کړي چې همدا د روژې نیولو فلسفه هم ده.

دې هدف ته رسیدلو لپاره پیغمبرعلیه السلام به دشعبان میاشت په میاشت کې د روژو نیولو ارزو لرله او داسې دعاء به یي کولو.   عن انس (رضی الله عنه) أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یدعو ببلوغ رمضان فکان إذا دخل شهر رجب قال : "الهم بارک لنا في رجب وشعبان وبلغنا رمضان) مسند احمد

**ترجمه :** حضرت انس رضي الله عنه فرمایلي دي پیغمبرعلیه السلام به رمضان ته د رسیدو لپاره دعاء غوښتله او داسې به یي ویل: ای الله ! مونږ ته د رجب او شعبان میاشتو کې برکت و اچوه او رمضان المبارک ته مو ورسوه.

پیغمبرعلیه السلام به د شعبان میاشت کې د خطبې له لارې صحابه کرامو ته د روژې د میاشتې راتللو په اړه زیری ورکولو. شعبان المعظم د رمضان المبارک میاشت لپاره مقدمه او زیری ورکوونکی ده؛ مونږ مسلمانانو ته په کاردي چې ددې میاشت څخه په لویه پیمانه ګټه پورته کړو.

امام ابن رجب رحمه الله لیکلي دي: کله به چې شعبان داخل شو مسلمانانو به مصاحفو ته توجه واړوله او تلاوت به یي کولو، د خپلو مالونو زکاتونه به یي ضعیفانو او مسکینانو ته ورکول، ترڅو د رمضان المبارک روژې ته تقویه شي . سلمه بن کهیل به ویل: د شعبان میاشت د قاریانو میاشت.ده . کله به چې شعبان داخل شو ، عمروبن قیس الملائي به خپل دوکان بند کړ او ځان به یي تلاوت ته فارغ کړ. لطائف المعارف (ص: ۱۸۳)

**د مسجد الاقصی څخه کعبې شریفې  ته د قبلې ګرځیدل په شعبان المعظم کې شوي دي:**

د شعبان المعظم په میاشت کې له مسجد الاقصی  څخه د مسجد الحرام په لوری د قبلې ګرځیدل ترسره شوې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم یو څه وخت د الله تعالی په امر سره د اقصی جومات په لوري لمونځ کاوه او همیشه به یې د الله تعالی څخه غوښتل چې قبله یې د مسجد الحرام په لوري وګرځول شي او تل د داسی زیري د اوریدو په تمه ؤ او همیشه به یې سترګې د آسمان په لوري نیولي وې چې څه وخت به وحې راالیږل کیږي . هماغه وو چې الله تعالی د ده  سترګې یخې کړی او دعاء یې قبوله شوه او مطلوب یې تر لاسه کړ او دا الهي وینا نازله شوه: {قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوِهَكُمْ شَطْرَهُ } البقرة :۱٤٤

**ژباړه:**  بیشکه مونږ لیدل ستا د آسمان لوری ستا بیا بیا مخ اړول، تابه وګرځوو هغه قبلې ته چې ستا خوښه ده(کعبه شریفه) ، پس د مسجد الحرام لوری ته مخ وګرځوه اوس چې تاسې هرچیرته اوسی نو د همدغه قبلې ته مخ  واړوئ ( په لمانځه کې)

**په شعبان المعظم کې د روژو نیولو فضیلت:**

په بهتره ورځو کې روژې نیول مستحب عمل دی چې دغه دفضیلت ورځې ځینې یې په کال کې وي ، ځینې یې په میاشتو کې وي او ځینې یې په هفتو کې.

په میاشتو کې د روژو لپاره بهتره میاشت محرم الحرام، جب المرجب، شعبان المعظم او شوال المکرم دي.

په میاشتو کې د روژو لپاره بهتره ورځې دهرې میاشت دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخ (ایام البیض) دي او همدا راز دعرفې ورځ، د عاشورا ورځ او د ذوالحجې لس لومړنی ورځې دي.

په هفتو کې د روژو لپاره بهتره ورځ دوشنبه او پنجشنبې ورځې دي.

د شعبان په میاشت کې روژې نیول سنت عمل دی.

د رمضان څخه وروسته پیغمبرعلیه السلام زیاتې روژې په شعبان کې نیولی.

**عن** عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها : أنها قالت :« كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصوم حتى نقول : لايفطر، و يفطر حتى نقول : لايصوم، و ما رأيت رسول الله استكمل صيام شهر قطُّ إلا رمضان، و ما رأيته في شهر أكثر منه صياماً في شعبان ». متفق عليه

**ژباړه:** له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم به دومره پیوسته روژې نیولې تردې چې مونږ به ویل چې ماته به یې نه کړي او روژې به یې نه نیولی آن تر دې چې مونږ به ویل چې نور به روژه ونه نیسي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ما نه دی لیدلی چې د رمضان له میاشتې پرته یې بله میاشت کې ټوله میاشت روژه نیولې وي او ما نه دی لیدلی چې د شعبان له میاشتې پرته یې په بله میاشت کې ډیرې روژې نیولې وي .

په یو بل روایت کې چې امام بخاري او امام مسلم روایت کړی دی داسې راځي:« فَإِنَّهُ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ» متفق عليه

**ژباړه:** پیغمبرعلیه السلام به په ټول شعبان کې روژې نیولی.

**وعَنْ** عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ :«كَانَ أَحَبُّ الشُّهُورِ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَصُومهُ شَعْبَانَ ، ثُمَّ يَصِلُهُ بِرَمَضَانَ». سنن ابن ماجة وقال الالباني: صحيح

**ژباړه:** له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، هغه فرمايي: پیغمبرعلیه السلام ته د روژې نیولو لپاره په ټولو میاشتو کې خوښه میاشت د شعبان وه بیابه یې روژې د رمضان سره پیوسته کړی.

**وعن** أنس بن مالك رضي الله عنه قال : « كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ فَلَا يُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ: مَا فِي نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُفْطِرَ الْعَامَ، ثُمَّ يُفْطِرُ فَلَا يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ: مَا فِي نَفْسِهِ أَنْ يَصُومَ الْعَامَ، وَكَانَ أَحَبُّ الصَّوْمِ إِلَيْهِ فِي شَعْبَانَ » . الامام احمد فی المسند والطبرانی فی الاوسط

**ژباړه:** له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې روژې نیولې چې نه به یې ماتولی، تردې چې موږ به ویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم څه هوډ نه لري چې سږ کال روژه وخوري او بیا به یې روژې نه نیولې تردې چې موږ به ویل سږ کال رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژو نیولو هوډ نه لري او ترټولو غوره روژه د ده په نزد د شعبان ده .

**وعن** أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ! لَمْ أَرَكَ تَصُومُ شَهْراً مِنَ الشُّهُورِ مَا تَصُومُ مِنْ شَعْبَانَ؟ قَالَ :«ذَلِكَ شَهْرٌ يَغْفُلُ النَّاسُ عَنْهُ بَيْنَ رَجَب وَرَمَضَانَ ، وَهُوَ شَهْرٌ تُرْفَعُ فِيهِ الأَعْمَالُ إِلَى رَبِّ الْعَالَمِيْنِ ، فَأُحِبُّ أَنْ يُرْفَعَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ».سنن النسائی

**ژباړه:** له اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته مې وويل : ای د الله رسوله ! ته مې نه يې ليدلی چې د شعبان د مياشتې په څير دې په نورو مياشتو کې دومره روژې نيولې وي، ويې فرمايل دا داسې مياشت ده چې د رجب او رمضان ترمنځ ده اوخلک له دې منځ څخه بی پروايي کوي .

او دا داسې مياشت ده چې عملونه دعالميانو پروردګار ته پکې پورته کيږي، نو زه دا بهتره بولم چې زما عمل په داسې حال کې پورته لاړشي چې زه روژه اوسم.

**وعن** معاذ بن جبل رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال : «يَطَّلِعُ اللهُ الى خَلْقِهِ فِي لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، فَيَغْفِرُ لِجَمِيْعِ خَلْقِهِ إلاَّ لِمُشْرِكٍ أوْ مَشَاحِنٍ ». رواه ابن حبان فی صحيحه والطبرانی فی معجميه

**ژباړه:** له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : الله تعالی مخلوقات ببني مگر مشرک او تيري کوونکي جګړه مار ته ببننه نه کوي .

**د شعبان پنځلسم:**

د شعبان المعظم پنځلسم تاريخ د هغو بهتره ورځو له جملې څخه ده چې په احاديث کې يې فضيلت راغلی دی.

دهرې مياشتې پنځلسمه ورځ کې د روژې نيولو فضيلت بيان شوی دی په ځانګړي توګه د شعبان المعظم د پنځلسم په اړه په احاديثو کې راغلي دي چې الله تعالی په دغه شپه کې ددعاء غښتونکو دعاء قبلوي.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ ، فَقُومُوا لَيْلَهَا وَصُومُوا نَهَارَهَا ، فَإِنَّ اللَّهَ يَنْزِلُ فِيهَا لِغُرُوبِ الشَّمْسِ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا ، فَيَقُولُ : أَلاَ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِي فَأَغْفِرَ لَهُ ، أَلاَ مُسْتَرْزِقٌ فَأَرْزُقَهُ ، أَلاَ مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ ، أَلاَ كَذَا أَلاَ كَذَا ، حَتَّى يَطْلُعَ الْفَجْرُ. سنن ابن ماجة (٢/ ٣٩٩)

**ترجمه:** رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې د شعبان مياشت نيمه شي شپه يې په عبادت ژوندی کړئ او د ورځې يې روژه ونيسئ. بيشکه الله جل جلاله په دغه شپه کې د لمر پريوتو څخه وروسته خپلو بندګانو ته خاصه توجه کوي او وايي : آيا څوک زما څخه د ګناه ببښونکی شته چې زه ورته ببښنه وکړم؟ آيا څوک شته چې رزق وغواړي چې زه ورته رزق ورکړم ؟ آيا څوک شته چې په مرض مبتلا شوی وي چې زه ورته صحت ورکړم؟ آيا داسې څوک شته ، آيا داسې څوک شته؟ ترهغې پورې چې سهار شي.

په يو بل حديث کې راځي: (عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ : فَقَدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ ، فَخَرَجْتُ أَطْلُبُهُ ، فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ، رَافِعٌ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ ، فَقَالَ : يَا عَائِشَةُ أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ ؟ قَالَتْ ، قَدْ قُلْتُ : وَمَا بِي ذَلِكَ ، وَلَكِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ ، فَقَالَ : إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَغْفِرُ لأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعَرِ غَنَمِ كَلْبٍ.) سنن الترمذی و ابن ماجة

**ترجمه:** حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي يوه شپه را څخه پيغمبرعليه السلام ورک شو، زه ورپسې ووتلم هغه مې لټولو چې په جنة البقيع کې مې ومنودلو دآسمان په لور خپل سر مبارک اوچت کړی ؤ، پيغمبرعليه السلام وفرمايل: ای عائشې! آيا تا ګمان کولو چې الله او دهغه رسول به ستا په حق کې ظلم وکړي( چې ستا په نوبت کې به زه د بلی بی بی کورته تللی يم) ماورته وويل: ماته دا جائز نه ده چې تاسو ته دداسې څه نسبت وکړم. خو ما فکر کاوه چې تاسو به د بلی بي بي کورته د کوم کار لپاره ورغلي ياست ( چې په حقيقت کې دا ظلم نه دی او په دې کې تاسو اختيار لری) ، بيا پيغمبرعليه السلام وفرمايل: بيشکه الله تعالی د شعبان مياشت په نيمايي کې اسمان دنيا ته توجه کوي او د کلب قبيلې د رمې په شا د پرتو وېښتانو څخه زياتو کسانو ببښنه کوي.
علامه ابن الحاج مالکي ليکلي دي: د شعبان المعظم نصف (پنځلسمه) شپه د الله جل جلاله په نزد ډيره مبارکه شپه ده ، په دغه شپه کې د الله تعالی فيصلی کيږي.د شعبان پنځلسم شپه که څه هم دليلة القدر شپه نه ده خو خورا عظيمه او دخير

ښخه ډکه شپه ده. سلفو علماؤ او خلکو به ددې شپې ډېر درناوی کاوه او ددې شپې د راتللو ښخه د مخه به ورته بدې رامتې وهلی او کله به چې دا شپه راغله هغوی به ورته پوره امادګي نيولی وه. المدخل لابن الحاج

**د شعبان مياشتي د روژی د مشروعيت حکمت:**

دا چې پيغمبر عليه السلام د شعبان مياشت کې روژه نيوله ګڼ لاملونه، حکمتونه لري په هغوی کې يو هغه حديث دی چې: اسامه رضی الله عنه وايي: پدی هکله د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه و پوښتل شول هغه وفرمايل:

( ذلک شهر يغفل الناس عنه بين رجب و رمضان، و هو شهر ترفع فيه الأعمال الى رب العالمين فأحب أن يرفع علمي و أنا صائم) سنن النسائي

**ژباړه:** دا هغه مياشت ده چې خلک تری غافل چې او د روژی او رجب ترمنځ د(شعبان) مياشت ده په همدی مياشت کې د بندګانو عملونه د الله جل جلاله در باره ته وړاندی کيږي او دا ځما خوښيږی چې ځما اعمال پداسې حال کې وړاندې شي چې روژه وم.

په يو بل حديث کې راځي: وعن عائشة رضي الله عنها أن النبي صلى الله عليه و سلم كان يصوم شعبان كله. قالت قلت يا رسول الله أحب الشهور إليك أن تصومه شعبان قال: إن الله يكتب فيه على كل نفس ميتة تلك السنة فأحب أن يأتيني أجلي وأنا صائم) رواه المنذرى في الترغيب وقال رواه أبو يعلى وهو غريب وإسناده حسن

**ژباړه:** د حضرت عائشي رضی الله عنها ښخه روايت دی چې هغه فرمايي: پيغمبرعليه السلام به ټول شعبان روژه ؤ. ماورته وويل: ای د الله رسوله تاته په ټولو مياشتو کې د شعبان مياشت غوره ده چې روژه په کې ونيسې؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل: بيشکه الله تعالی په دغه کال کې ټول هغه نفسونه ليکي چې په دې کال کې وفات کيږي، زه غوره بولم چې ماته مرګ راشي او زه روژه يم.

همدا راز په شعبان کې روژه نيول د رمضان المبارک د روژو لپاره يو ډول تمرين دی.

امام ابن رجب رحمه الله فرمايي: (في صوم شعبان معنى آخر: أن صيامه كالتمرين على صيام رمضان لئلا يدخل في صوم رمضان على مشقة وكلفة، بل قد تمرّن على الصيام واعتاده...) لطائف المعارف (ص: ١٨٢)

د شعبان په روژو کې يو ډول تمرين دی د رمضان المبارک روژو لپاره ، ددې لپاره چې د مضان په روژې وربانديې سختي تمامی نه شي؛ ځکه دشعبان په روژو سره مسلمان د روژو خوږوالی کتلی وي.کله چې رمضان راشی مسلمان ورته چمتو وي او دالله تعالی دعبادت ښخه خوند او مزه اولذت واخلي.

بر سيره پردي، د رمضان نزدی والی او ځانګړي برکتونه او انواريي: د شعبان مياشت کې د روژی انګيزه پيداکوي او د شعبان روژه همغه نسبت د رمضان سره لري لکه د فرضونه وړاندی نفل لمونځونه يي چې د فرضو سره لري.

**د نفلي روژو فضيلتونه:**

د اسلام مقدس په دين د نورو نفلي عبادتونو په څير نفلي روژي يي هم تاييد کړي دي؛ ترڅو روحاني تربيه، تزکيه او پالونکي رب جل جلاله رضا ترلاسه شي.

لکه مخکي مو چي وويل د ځينيو ورځو فضيلتونه او برکتونه په کې بيان شوي دي او خلک يي د روژو نيولو ته هڅولي او تشويق کړي دي؛ چې دځينو يي په لاندې ډول يادونه کوو:

**١- دهرې مياشت د ١٣، ١٤ او١٥ (ايام البيض) ورځو روژې:**

پدی هکله دپيغمبرعليه السلام نه په دی شرح حديثونه روايت شوي دي:عن أبى ذررضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:(ياأباذر!اذا صمت من الشهر ثلاثة أيام فصم ثلاث عشرة، وأربع عشرة وخمس عشرة)سنن الترمذي

**ژباړه:** د ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل: ای ابوذره! کله

دی چې په میاشت کې درې ورځې روژه نیول غواړی نو دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ روژه ونیسه.
همدا رنګه راغلي دي: عن قتاده بن ملحان رضي الله عنه قال: (كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا أن نصوم البيض ثلاث عشرة و أربع عشرة و خمس عشرة و قال: هن كهيئة الدهر)صيحيح البخارى
د قتاده بن ملحان رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امرکاوه چې بیض ورځې یعني: دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ د هرې میاشتې روژې نیسی او فرمایل یې: د دی درې ورځو اجر او ثواب د همیشنی روژې سره برابر دي.

**۲- د دوشنبې او پنجشنبې روژه فضیلت:**

د اسامه بن زید رضی الله عنه څخه روایت شوی حدیث کې راغلي دي: ( ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يصوم يوم الاثنين والخميس فسئل عن ذلک فقال أن أعمال الناس تعرض يوم الاثنين و يوم الخميس و في لفظ و أحب أن يعرض عملي و أنا صائم)مسند الامام أحمد

پیغمبر علیه السلام به دوشنبی او پنجشنبی ورځو کې روژه نیوله نو پدی هکله وپوښتل شو وی فرمایل: د بندګانو عملونه د دوشنبی او پنجشنبی په ورځو د الله جل جلاله مخی ته ایښودل کیږي. په بل لفظ کی دي : دا خوښوم چې پداسی حال کې زما عملونه وړاندې شي چې روژه وم.
وعن أبي قتاده رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم (سئل عن يوم اثنين فقال: فيه ولدت و فيه أنزل علي)صحيح مسلم
د ابی قتاده رضي الله عنه روایت دی چې د پیغمبر علیه السلام نه د دوشنبی ورځې په هکله پوښتنه وشوه، وي فرمایل: دوشنبی په ورځ زیږیدلی یم او په همدې ورځ قرآن را باندې نازل شوی دی.
د پورتني مبارک حدیث نه څرګنده شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثراً د دوشنبی په ورځ روژه ؤ، بله دا چې پدی ورځ د بندګانو عملونه د الله جل جلاله حضورته وړاندی کیږي. او بله انګیزه دا هم چې د دي دوو لویو نعمتونو (زوکړه او وحی اونبوت) مننه او شکر ؤ چې حضورته د دوشنبی په ورځ ورکړ شوي دي او ټولو نړیوالو ته د نعمت او رحمت په توګه استول شوی دی.
عزتمنو لمونځ کونکو او دینپالو حاضرینو: آیا مونږ او تاسو ددی میاشتی اهمیت وپیژانده؟ د هغی له فیوضاتو او برکاتو نه موګټه واخسته؟ نو راشئ ددې فرصت نه عظیمه ګټه واخلو او ځان جسماً او روحاً د رمضان مبارکي میاشتې لپاره تیار کړو او لویه معنوي پانګه کمایي کړو هغه میاشت چې: خورا ډېر او زیات فضایل لري.

**خلاصه:**

١. د شعبان میاشت یوه مبارکه میاشت ده .

٢. د شعبان میاشت د رمضان د میاشتي لپاره سریزه ده .

٣. د اقصی له مسجد څخه مسجد الحرام ته د قبلي راګرځیدنه په همدې میاشت کې شوی ده.

۴. د شعبان په میاشت کې د روژو نیول ډیر ښه کار دی .

۵. د شعبان په میاشت کې د بندګانو عملونه الله ته وړاندې کیږي البته د انسان کلني عملونه .

اللهم بارک لنا في شعبان وبلغنا رمضان وأعنَّا فيه على الصيام والقيام يا ربَّ العالمين.

اللهم وفِّقنا لما تحبُّ وترضي، وارزقنا أعمالاً صالحة ترضى بها عنا برحمتک يا أرحم الراحمين .